# د کلیمې په اړه

لیکونکی: پژواک

پښتو ټولنه

حمل - ۱۳۳۷

25

د پښتو ټولنې د خپرونو لمبر (۱۳۸)

# کلیمه داره روپۍ

لیکونکی

## عبدالرحمن پژواک

د پښتو ټولنې افتخاري غړی

PROPERTY OF ACKU

د چاپ نېټه — د چاپ شمېر

حمل - ۱۳۳۷ — (۱۰۰۰)

پښتو ټولنه

د عبدالرؤف عاکف خطاطي

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00005560 7

بسم الله الرحمن الرحیم

## کلیمه داره روپۍ

دا یوه خوږه ډرامه ده چه ښاغلي عبدالرحمن پژواک د پښتو ټولنې افتخاري غړي تقریباً شل کاله پخوا لیکلې ده. په دې ډرامه کښې پښتني احساسات، د وطن مینه، افغاني شجاعت، دیني جذبه ډېره ښه تمثیل شوې ده چه د افغان ملت د زړورو او ښځو مړانه او نارینتوب ترېنه ډېر ښه ډول څرګندېږي. په کلیمه داره روپۍ کښې مادي او معنوي دواړه قیمتونه موجود دي او د دین او دنیا د وصال ډېره ښه نښه ده. په پښتو ادب کښې کلیمه داره روپۍ د ښکلو پېغلو له اربل سره ډېر ارتباط لري او په همدغه وجه د جمال پلوشه او د عشق خاطره هم پکښې پټه ده په همدغه سبب دا نوم له دې قصې سره ډېر ښه تړون لري او لیکونکي د خپلې قصې اساسي تکی

ACKU

ګڼلي دي .

پښتو ټولنه ددې دپاره چه په پښتو ادب کښې دقصو او ډرامو برخه زیاته شي ددغسې آثارو چاپول ګټور ګڼي او هیله لري چه لوستونکي تر ډېره ادبي فایده اوچته کړي او دپښتنې جذباتو په روزلو او خوشحالولو کښې ښه برخه ولري . ګل پاچا « الفت »

ACKU

کلیمه داره روپی

دډرامې کارکوونکي

غرزی :- یوسپاهی
ځلمی :- دغرزی ځوی
ګلشکه :- دځلمی مور
سنک :- یوزرګر
سکندر :- دلښکر قوماندان
کاپرفیلډ :- دانګریز دفوج کنډکمشر
سپایان :- پښتانه، انګریزان ......

ACKU

# لمړۍ صحنه

## لمړۍ پرده

اشخاص: ګلشکه، حلمي، غرزی

(د دې صحنې پېښې د غرزي په کوړ کښې پېښېږي. غرزی چرتي ناست دی. او به غواړي. ګلشکه او به وړکوي. حلمي چه اته کلن دی لوبې کوي)

ګلشکه :- ولې دلګیر یې نن؟

په څه غمګین یې نن؟

غرزی :- یاره دلګیر خو نه یم

په غمو ګیر خو نه یم

خو د بېلتون له لاسه

ګلشکه :- د چا نه بېل یې ته!

غرزی :- تر او سه بېل نه یم

خو د بیلتون له بویه

گلشکره :- خو د بیلتون له بویه
داڅه خبره کویې

. . . . . . . . .

غرزي :- بیلتون خو ګل دی کنه

ګلشکره :- د څه شي ګل دی بیلتون
زه دی غمجنه کړم
بیلتون که تا ته ګل وي
ما ته داور سوزل دی

غرزي :- د غم او درد په باغ کښې
شکر چه نه يې وینې
او نه پوهیږې په دی

چه بیلتون کوم یو گل دی

گلشکه :- دغه نور گل به څه کم

زه دی په غم مړه کړم

اصل مطلب ته راشه

زړگی می ډک دی زیاتی

تیری می مه ځوروه

دخدای دپاره یاره

اصل مطلب ته راشه

ولی دلگیر یې نن ؟

په څه غمگین یې نن ؟

هغه ستا مینه څه شوه؟

هغه ځما میله څه شوه؟



ACKU

اوس په بل چامین شوې
یاره دخدای د پاره
څه اوړدی بل کړ په ما
څه تو کړو شوه په ما
ته خو داهسی نه وې
زړ شه خبره کوه!

( اوژاړی )

غزری :- ارماند . ارماند ، ارماند
افسوس، افسوس ، افسوس
څه بدګمانه شولې
مه ژاړه ځان به مړ کې
ځما وفا دېره ده

اوښکې دې مه تویوه
زړګی مې مه خوروه
ته سمه کېنه زړګیه
پښتنه کله ژاړي

ګلشکه:- زه سمه ناسته یمه
خو ته خبره وکړه
زړګی مې ډک دی زیاتي

. . . . . . . . . . . . . .

غرزي:- خبره داده چه ما
سبا جګړې ته لېږي
دا نګرېزجنګ لښتي
که هلته وو وژل شم

او تا ونه وینم زه
ارمان په زړه به لاړ شم
دخاوړو لاندی به پروت
او ستا به یاد کښنی به یم
دوینو ډکی سترگی
او د سر وشوند وارمان
دغه بیلتون می بنو ده

گلشکه :- ( او بنکی وچوی او خوشحاله کیږی )

داخو بنادی شوه کنه
یا به غازی راځی شی
یا به شهید سرداری
زه به په جگو سترگو

قام او ټبر بو رته ګورم
ته به په هسکه غا ړه
جنت کې ګرزې وا ړه
دا نو دغم .........
دا نو دغم ..........
دا خوښا دی ده کنه

غرزی :- یاره رښتیا دې ووې
دا ستا له ستر ګو جار شم
زړه مې ډا ړه شو زیاتي
ټوپک مې راکړه چه ځم
چه غیر حاضر نه شمه
دغه پیسې در واخله

ACKU

خرڅې د کور په واخلم
خدای دې وي ستا ساتونکی
که چیرته مړ شومه زه
دعا کوه راپسې

گلشکه :- خدای د هرچا یار دی
زړه دې ته مه غوړځوه
زه به خرڅې کومه
ځان ته به خرڅ کېمه

(توپک ورکوي)

غرزی :- ځلمیه راشه ځو یه

(ځلمی راځي پلار ئې ښکلوي)

غرزي گلشکي ته : هغه روپۍ به ساتې

ACKU

گلشکه :- جانانه کومه روځې ؟
کلیمه داره روځې ؟

غرزی : هو ! هو !
کلیمه داره روځې ؟

گلشکه په مخه دې ښه شه

غرزی : په خدای مې سپارلې یاست
(وزی او د. وژخنګ ته پټیږي)

گلشکه یوازې : (دعا او په ملی لنډیو زمزمه کوي)
مولا دې تالرې خوشحاله
که زما عمر په ضرورې تیر به شینه
په تورتوپک ویشتلی راشې
د بې ننګي غږ دې رامشه لمرحله

په تورتوپک ویشتلی راشې
چه پرهار ونه دې گندم خوله درکومه

(غرزی سندره اوري ... دمینې په جوش ورتوځي گلشکه حیرانیږي
غرزی غیږ ورته کوي او په مینه مینه یې چپوي دمینې اثرات د دوی
دخبرو آهنگ بدلوي)

گلشکه :- داڅه حال دی خالقه
ماسکرویلي چه ته لاړې

غرزی : چه یې غواړې ته پرې واوړې
دغه شی وه چه ماغوښت
زه همدې ته منتظروم
د دې سینې خولې دې جارشم
اوس رخصت راکړه چه لاړشم



ACKU

گلشکه: څه په مخه دې رڼا

غرزې: په خالق مې يې سپارلی

(غرزې روانيږي گلشکه ورپسې غږ کوي)

که تورا وربل مې ميراتيږي

تنگ دا سلام دې جانان نه منع کومه

جانانه جنگ نه په شانشې

چه دمځولو راله نشي پيغور ونه

(پرده لويږي)



ACKU

## لمړی صحنه

## دویمه پرده

اشخاص : غرزی ، دغرزی یو اندېوال چه دده ځنګ ته روان دی ، منصبدار ، پلټن ،

(غرزی دمارش په وخت کښی داپه زړه کښی تېروی)

غرزی : یاره خولنده داده
ددې له خولې نه جارشم
ماویلی ځنګه به شی
څه به جګړې ته ووزم
دابه په اوښکو ناسته
دبیکسی نه ژاړی
څه به په وینو کښی سوړ



ACKU

مساپرۍ کښې، مړ شم
خبر مې نه لرلو
چه د نر لور به، ماته
ننګ و غیرت را ښئي
یاره نو څرنګ یې زه
لاس او پښې چپ نه کم
دا خو د خدای لار نه ده
ښه څنګه یې ویلې ماته
"ولې دلګیر یې نن ؟
په څه غم کښې یې نن ؟"
نېکبخته نه پوهېده
چه زه د دې په غم وم

ACKU

یو بل سپاهی: غزنیه ورو ره څه کړې
پښه دې شوه غلطه
ته په څه حرکت کښې یې نن
ولې سودا کښې ډوب یې
نن د ښادۍ ورځ ده
د کاپر جنګ ته روان
دومره سودا مه وهه
په حلمیتوب به شي زوړ
که دې په زړه کښې څه دي

غزني: یاره خبرې مه کړه
نن خو عجیبه ورځ ده
د لوی اختر نه والله

چه نن خوشحاله یمه
بیا هم بنده عاجزه دی
د دنیا د پېر غمو نه
زړه ته سودا اچوی
سحر خېږوم خوا وس
د خوشحالۍ له لاسه
په چړتو ډوب یمه زه

سپاهی: یاره رښتیا دی ویل
هغه لنډۍ ده کنه

. . . . . . . . . «فکر کوی»

غرزنی: کومه لنډۍ ده وروره
سپاهی: هغه لنډۍ شه نه ده



ACKU

اوس می په زړه وه والله
داسی ترې تمه شوه

غرزی: ستا چرت هم ښه خو نه دی
کمې دروغ ویلی

...............

سپاهی: نه والله داسی نه ده
نن د ښادۍ ورځ ده
یو واری زړه ته راځی
دلین نه او زه گډ شه

غرزی: ښه څه لنډۍ و هغه
هغه مضمون یې وایه

سپاهی: مضمون یې غم دی

ودی ........ «فکر کوی»

غرزی: دغه مصرع به نه وی

سپاهی: کومه مصرع به نه وی

غرزی: دنیا د غم په ورځ پیدا ده
کم عقل خلک پکښی ماڼی آبادوینه

سپاهی: په هغه پلار دې رحمت

(منصبدار د سکوت امر ورکوی. بولی وائی ........
سپایان گرد چپیږی)

«پرده لویږی»

## لمړنۍ صحنه

## دریمه پرده

اشخاص: ګلشکه، حلمی،

( د دې صحنې وقایع دغرزي په کور کښې پېښېږي، ګلشکه ناسته ده او څه شی ګنډي، حلمی چه څو لحظې مخکښې بهر وتلی و راځي )

ګلشکه (ځان سره): عجبه توکه وشوه

دخدای نه جار شمه

هغه خدمت ته ووت

داڅو روپۍ هم چه شته

چه د پرېږې وچلېږو

څه! داڅلور میاشتې

که تر هغه دې راشي

ACKU

خولا یوه خبره
که چیرته څنډه شي نو بیا
.......... «فکر کوی»

څه خو بلا راپسې
ځلمی غریب ته ګوری
یو لوېښت هلک وه ربه

.............

ښه! څه یې ویلی راته
.......... «مکث کوی»

اوښکې دې مه تویوه
زړګی مې مه ځوروه
پښتنه کله ژاړی



ACKU

د ده د برېتو نه جار

. . . . . . . . . . . . . . .

ځه ! رب دی خیر و رپېښ کی
تنګسی به تیری شی خو

. . . . . . . . . . . . . . .

چه دی غازی شی یو وار

. . . . . . . . . . . . . . .

ځه به کومه خرخې
خرڅې به کمه پیدا

. . . . . . . . . . . . . . .

خدای دې په خیر راولی

. . . . . . . . . . . . . . .

خدای دی غازی را ولی

. . . . . . . . . . . . . . .

خدای دی میړه را ولی
دجګوسترګو سره
په دنیا . . . . . . . . . . . .

(حلمی ننوزی . دګلشکي خیالات بدلیږی)

حلمی : موری پښې مې نښته
پلار چه مې راغی بېګا
اروم روبه ماته
پښې په باندی اخلی
سباچکړی کیږی
زه پیښی ابلی ګرزم



ACKU

زه خو ..........

گلشکه: بنه موردې ځار شه ځویه

ځلمی: جوارې دې چیرته ایښې

گلشکه: هلته تاخچه کښې واخله
سرسبیلې مه کوه
هر سات د باندې مه ځه
چه زه یوازې یمه
زړگی مې چوی له غمه

ځلمی: هو! هر سات د باندې مه ځه
زه نو هم بنځه شمه
والله که یوسا ت کښېنم
تول به بهر مستی کا

زه به کاله کې کښینم
دچا بندی خو نه یم
نرغوندی باندی ووزم
والله که څوک مې ستون کې

. . . . . . . . . . . . . .

(حلمی وزی جواری کندک ئې په لاس کې دی او خوری ئې)

ګلشکم: څه وایم غم غلط شی
دی وائې ښځه نه یم

. . . . . . . . . . . . .

(ستن ئې له لاسه لویږی، ستن اخلی تاریکې اچوی)

(پرده لویږی)

PROPERTY OF ACKU 5560

## دویمه صحنه

### اقله پرده

اشخاص : د فوځ قوماندان ( سکندرخان ) ، سپایان ......

سکندرخان : ځما ګرانو وروڼو !

یو کال تېر شوی چه مونږ

د سرحد غرو کښی پراته

د دښمن پته نشته

د دښمن حال دی معلوم

د جګړی پته نشته

لکه چه مونږ تیار ری

ګړی پراته یو ورته

هغوی به هم مصروف وی

نن یو مخبر راغلی
وائی انگریز خوځیږی
توماراوغوښتلی
چه جنګ نږدی راغلی
ځانونه ښه تیارکړی
ورته ملا وتړی ټول

. . . . . . . . . . . . . . . . . .

ګوره غلیم کاپر دی
مونږ مسلمان یوشکر
ددین ، دولت خدمت ته
دزړه نه ملا وتړئ
پیغلی کوروکښی ناستی

موږ ته يې سترګې په لار
ننګ او ناموس د وطن
په خطره کښې دی پروت
ميړه چه تاوکې برېت
او بيا د مرګ پروا کړي
د ښځو کار نو کوم دي
بايده دی دا چه موږه
له ژونده لاس ومينځو
کاپر چه مات نکړي
مسلم به څرنګه وي
زموږ د رسول په وخت کې
يو مسلمان لس کاپر



ACKU

سره میدان ته وتل

بری به ؤ د مسلم

ښه څه معنی لری دا

آیا زمونږ څه کمی دی

چه هم مسلم هم پښتون

یو د څښتن شکر ونه

ځانونه مړه کی په دین

او د وطن په ناموس

چه جګی سترګی لاړشی

یاخو بې ننګه سترګې

د خاورو لاندې ښې دی

له پښتنو نه پټی

ACKU

سپاهیان په یو آواز: په سر، او سترګو صاحب!
یا به په خپلو وینو
یا د دښمن په وینو
د وطن خاورې سرې کو

(یو منصبدار لاس جګوی او د سکوت امر ورکوی)

سکندر: اوس یو سړی دی په کار
چه شی اول پهره دار
او ځان په مرګ ونیسی
چه د دښمن په رانګ
روميی خبر کاندی مونږ
څوک به داکار په غاړه
واخلی د دین او وطن

دسرلوړې د پاره

سپایان یو وارې، مونږ کرد حاضر یو صاحب!

سکندر: شکر الحمد لله

لکن فقط یو سړی.

(غرزې دلین نه و وزي. تعظیم کوي او وايي)

غرزې: په مرچل هاغه سړي خیجی

چه یا مین وي یا يې پیغله ناسته وینه

دا کار ځما ترغاړې

ما په کالدکې ویلې

چه بې برې نه راځم

یا به ژوندی نه راځم

اوس مو نو خپله خوښه

دغه ځما هیله ده

ما ډېرې غوښې کړې

صاحب د خدای په خاطر

دغه کار ما تېر پرېږدئ

سپایان خپل منځکښې : هو دی ملا دم کړي

سپایان منصبدار ته : صاحبه ته پخپله

چاته چه وائې ځي به

مونږ گرد ددې دپاره

راغلی یو چه خپل ځان

په دی خدمت کړو قربان

سکندر : اختیار زما دی وروڼو!

سپایان : هو! اختیار دی ستا صاحب!

سکندر : ماخوهم دی خوښ کړی

سپایان : بالکل صحیح ده صاحب

اطاعت، اطاعت.......

سکندر: ځه! لاړ شه پټ به کښینې

مرچل ژور روکینه

دښمن چه راغی زیاتی

ګلچین به نۍ ولی تر څو

چه مونږ رسیږو ورته

................

(سکندرخان حد، حدود ورته ښئی، لازم هدایات ورکوی. غرزی تعظیم کوی او له اندیوالانو سره دخدای په آمانی نه وروسته روانیږی)

(پرده لویږی)

## دویمه صحنه

## دویمه پرده

اشخاص: غوزی، کاپرفیلډ، شپږ تنه انګریزان

(د دې صحنې وقايع د يوې غونډۍ په پای کښې پېښيږي، غوزی کلنګ په لاس کښې محکم کښې تينګ نيولی او مرچل جوړوي؛ زمزمه کوي:)

غوزی (د ځان سره): که سړی ډېر په زړه محکم وي

چه بې آشنا په زړه راځي ژړا ورځينه

څه دی قمرلب دی ګوهر دی

زما صبر دی په ژړا دريسی مرمه

زياتی راځه د ښمنه

په انتظار دی مړ کړم

ونې خوتېږی زما

راځه میدان ته وو زه

. . . . . . . . . . . . .

ته به سکه وائې چه زه
ځان ته مرچل جوړ وم
ځان ته می قبر ساز که
ګو رخو همداسی خوند کړی
چه پخپل لاس یې جوړ کړی
یاخو به لوړه و کړم
یا به می مور شی بوره
خدا یه ژوندی دی نه یم
چه . . . . . . . . . . . .

( شا او خوا ته ګوری ، مخی ته یې لوی داګ پروت دی ، سپاره وینی )

والله چه راغله تېرې

ته پکه ځان تيار که

پنځه او شپېن تنه دی

په اسو تول سپاره

مرګی ئې ژن راولی

ځمه مرچل کښې کښېنم

چه لږ نزدې راشي

بله لار نشته کنه

چه په هغې لار شي

ضرور په همدې راځي ! ها

. . . . . . . . . .

يو منصبدار دی پکښې

داخو والله که مړ کم
ولې یې ژوندی نه نیسم
که چیرته سخته راغله
خدای دې یو هم نه پرېدي
خو دا به بنه توکه وي
چه یې ژوندی ونیسم
پیغلو خوشحاله وسئ
ارماندې ووت زیاتي

. . . . . . . . . .

(د انګرېز کشاقان نژدې کېږي. شا او خوا ته ګوري خپل منځکښې وائي:)

کاپرفیلډ: په شا او خوا کښې هیڅوک
نشته تر دغه ځایه

داپښتانه و یده دی
فتحه زموږ ده وړوکو
ځما خبره منئ
ما ډېر جنګونه کړي
د تجربې نه وایم
( د سلو قدمونو په فاصله د غرزی مرچل ته رسیږي )
غرزی:          اوس یې نو وخت دی زباتی
ربه ایمان ته موخیر
. . . . . . . . . . . . . .
( د زېږ کوی ...... یو دوه، درې انګریزان له آسونو لوېږي ).
کاپرفیلد:    ګوره چه و نه وار شي
فقط یو کس دی دلته

ورسره نشته بل څوك
ځانونه کلك کړئ په آس
کوري سړي ميندو کئ

غرزی: ربه ايمان ته مې خير
(فيرکوی دوه تنه نورلوېږی)

کاپرفیلډ: زمونږ نې قتل وویست
کوري چه ونه ډارشئ
فقط يوکس دی دلته
(انګرېز دغرزي مړ چل وینې)
دغه دی دلته ناست دی
صاحبه دلته راخوا



ACKU

. . . . . . . . .

غرزی : راځه، راځه له خیره . . . . . .

( فیرکوی . . . انګریزلوبږی )

کاپرفیلډ : خبره بنه نشوه اوس
راځه چه تښتم زیاتی

غرزی : ځان دې ونه بښوروی
کړنه ګولی د رغـله
د زړې دې د یری کړی
دتجربې نه پوه شـه

کاپرفیلډ : دخدای دپاره یاره !
زه خو تش لاس ولاړیم

( . . . . . . توماڼچه غورزوی )



ACKU

چه لاس خطا نه کړې نو

. . . . . . . . . .

یو واری وړاندې راشه
یو څو خبرې کوم
زه خو دې لاس کښې یم اوس
درنه خو چیرته نه ځم

(عوزې وړاندې کیږي توماڼچه جګوي، کاپرله آسه لاندې غورزوي)

ښه ځه دې ویلې راته
که ما وژلې چیرته
سر کښې مې ته ویشتلې!

کاپرفیلډ: خبره داده چه زه
تا ته پیسې درکوم

لاکن چه ماخوشی کې
طلا به در کم ډېرې
چه په ژوندون دې بس وي
او د ،نمسو دې وشي

. . . . . . . . . . . . .

غرزی: څو مره طلا راکوې
کاپرفیلډ: زر انګریزی پونډه ونه
غرزی: راځۍ کره زر شه چه اوس
ځما ملګری راځي
ځما د زړو آوازدی رسیدلی وړته

(کاپرفیلډ د زین شا ته لاس وړي او پونډونه راوباسی) او وائي:

د ېر طالعمند سړی دی

. . . . . . . . . . .

# کټه دی وکړله بته

(غرزی طلا اخلی)

کاپرفیلډ: اوس می نو پریده چه ځم

. . . . . . . . . . .

غرزی: زه به ایمان خرڅوم

. . . . . . . . . . .

راځه چه ځو افسرته

چابک شه مه درېږه

(دکاپرفیلډ رنګ زیړ اوړی)

کاپرفیلډ: دخدای دپاره ورو وره!

پښتوخو داسی نه وی

غرزی: څما پښتو همدا ده
روان شه مه درېږه
دغه دی ومی ویشتې

(کاپر فیلد روانیږی ..... سکندرخان او یو تولی ځی ته ورځی)

سکندرخان: څه چاره وه زر و وایه
دا د زی تاوکړې
دا ټوپکونه د چا دی
او دا اسونه د چا

. . . . . . . . . . . . .

دا منصبدار انګرېز دی

. . . . . . . . . .

دا دی له کومه که ها

غزرى : صاحبه شپږمې مړه کړل
يومې ژوندى ونيوه
دغه طلائى راکړى
تاسو پوهيږئ او دا

. . . . . . . . . .

سکندر خان : ( له اسه کوزيږى ، او غزرى ښکلوى ) شاباس په پلار دى رحمت
ميړونه دا رنګه وى
د پښتو ننګ شو په ځاى
( کاپر فيلډ ته ) ستا رتبه څه ده وايه

کاپر فيلډ : د کشافانو افسر

سکندر خان : چه په خير ورسيدې
زموږ عزيز ميلمه يې
هلکه دا به بيايې

هلته خیمه کښی به وی (غوزی ته)
اوس به په څرنګه ژه
ستا زړه خوشحاله کړه

. . . . . . . . . . . .

د طلا څو دانی دی

. . . . . . . . . . . .

غوزی: صاحبه! زړمی په شمار
ترینه اخستی والله
ویلی چه ماخوشی که
ما ویلی ښه ده په څه؟
ویلی طلا به درکم
چه طلا ګانی ئې راکړې

ماویلی اوس نو راځه

. . . . . . . . . .

سکندرخان، (وړاندی کیږی او بیائے ښکلوی)

طلا دی ستاوی او دا

دانګریز انو افسر

وی دی زما په برخه

. . . . . . . . . .

خو دا طلا بدلی

نه وی دا ریږم واللّٰه

(په خپل وخت بیا طلا کتل کیږی او معلومیږی چه ټول ښه اوصاف

پوند و نه دی چه یوه قلبه هم پکښی نشته)

اوس نو یوه خبره

درته کوم که اوریې

خو ګوره امر نه دی ٭

کړوی ستا خپله خوښه

یوه طلا سرې سر

په دې کندک و ویشه

زیاتی دی ستا خپلی وی

عزیز: په دواړو سترګو صاحب!

سکندرخان: داتمانچه دی ستاوی

چه زه مرکز ته لاړم

فرمان به واخلم درته

نښان به درکړل شي

چه منصبدار شي زیاتي



ACKU

خدای دی خیر ښونه درکړی

غرزی : ( تعظیم کوی ..... طلا په سر و ویشی او ه سوه دانې

ده ته هم پاتې کیږی )

سکندرخان : دا آس دی هم ستا وی

نور به ته ماسره یې

او سوربه کړی زی همیش

غرزی : ( تعظیم کوی )

( د شپې انګریزان را رسیږی ، جنګ کیږی ، او قتل فتحه کیږی ،

عسکر مراجعت کوی سپایان کورو ته ځی )

( پرده لویږی )

## دریمه صحنه

### لمړی پرده

(گلشکه او ځلمی دغرزی په کور کښېنی)

ځلمی: موري والله چه زه مرم

ترخوبه وږی کړُم

یوه گوله مړی (ژاړی)

یوه گوله . . . . . . .

مړی . . . . . . . . .

ترخوبه . . . . . . . .

وږی . . . . . . . . کړُم

گلشکه: بچیه مه ژاړه ته (او ښکی یې وچوی)

دمور دستر گو توره (لاس وړاندی راکاږی)

چوپ شه ژړا بنه نه ده

. . . . . . . . . . . . . .

اوس کړ د باندې لاړ شې
همزولي خاندې په تا

. . . . . . . . . . . . . .

خیر دی بچیه خیر دی
یو ساعت ځان مشغول کړه
نو بیرته راشه زه به
یوه چاره وکړم
چه لس دی مو ړشی ځه نو

. . . . . . . . . . . . . .

حلمی :  هن پرون دی هم دغسی

وغولـولم چـــتی......

گلشکه    څه ! ښځ دی نه غولوم

(ځلمی وو زی گلشکه یوازی په کوټه کښی پاتی کیږی)

گلشکه (ځان سره) : ښه خدایه اوس به څه کړم

داپوره دوه شپې وشوې

چه زه په ناری ناسته

خپله مړې ځلمی ته

پریدم چه وږی نه شی

اوس چه هغه هم نشته

څه چاره وکمه زه

پړوڼ می وغولاوه

چه د شپې موړ اوده شی

اوس به يې څرنګه کړم ؟

پلار يې دی تللی جنګ ته

خاوند دې مل شي د ده

. . . . . . . . . . . .

بس نو دې حال ته ګوره

تر اوسه ګنډه ګونډه

ايسته رايسته کېده

يوه ګوله مړۍ به

را بوديده له راته

اوس خو هغه هم نياتي

را باندې ودرېده

. . . . . . . . . . . .

ACKU

ځلمۍ (ننوځي)، دغه دی راغلم مورې

( دگلشکې رنگ سپين کړځي او غږ يې تښتي )

ځلمی : دغه دی راغلم کنه

( گلشکه په حيرت کښې دوه ښي دالاندېنۍ خبرې يې په زړه کښې تېرېږي )

( گلشکه په حيرت کښې ) نو زخو هيڅ نه لرمه

بې له يوې روپۍ نه

کليمه داره روپۍ

کليمه داره روپۍ

کليمه داره روپۍ

. . . . . . . . . . . . .

کليمه داره روپۍ

## کلیمه داره روپۍ

. . . . . . . . . . . . .

(سترګو نه یې اوښکې تویږي) په هغه وخت کښې چه زه
یوه بیکسه پیغله
مینه شومه په تا
غوږ زیه چیرته ګرځي

. . . . . . . . . . . . . .

اوس به په کوم مرچل کښې
پروت یې له مانه لرې
تاؤ، ویلی راته
چه دا زمانښه ده
دا به تر عمره ساتي

. . . . . . . . . . . . . . .

هو! دارا کړې وه تا

. . . . . . . . . . . . . .

(ځلمی چه دمور او ښکو ته ګوري په ژړا پیل کوي او پرمخ یې لویږي)

کلیمه داره روپۍ
دا به ترمرګه ساتې

. . . . . . . . . . .

کلشکه: اوس چه ځلمی دلوږي
مړی نوره څه وکمه

. . . . . . . . . . . .

بس که داخر څه کمه
او ته ژوندی رانشي

ستا به په لښنی پسی

. . . . . . . . . . .

کلیمه داره روپی

. . . . . . . . . . .

خدای خو دی لوی ساتونکی
تا به ژوندی راولی

. . . . . . . . . .

چه اوس می ځوی مړ نه شی
(خلمی لکه چه د ماشومانو عادت دی ویده کیږی)
له تانه عفو غوارم
په هیله مندو سترګو
اوستا بخښښ ته ګورم

ACKU

بله چاره نه لرم

.......... ځلمی

کلیمه داره روپۍ

(له جېبې نه روپۍ راباسي او بې اختیاره ژاړي)

...... ځلمیه وه ځلمیه!

څنګه وده دی غریب

ځما دستر کو توره

سر دی راجګ که واخله

کلیمه داره روپۍ

اوس خو یې پریږده!

..............

(ځلمی په خوب کښې غزیږي)

ACKU

ځلمی: (په خوب کښې) ابا! ستړی مشې
چه په خیر راغلې
وی........

(جز ومی)

ګلشکه: بسم الله! (او پاڅیږی)
زویه راجګ شه پاڅه
زرګر دکان ته لاړ شه
دا روپۍ ورکه ورله
پیسې ترې واخله پوه شوې؟
چه اوره واخلم درته
.............
ځلمی:          دادی دکوم ځایه کړه!



ACKU

. . . . . . . . . . . .

( روپۍ اخلي او په منډه ووزي )

گلشکه : وئ ! وئ !

خاوري مې په سر شوې

ځلميه ! وه ځلميه !

بېرته را وگرځه

روپۍ بېرته راکه

ته بنه يې که دغه بنه

ځلميه ! وه ځلميه !

ځلميه ! وه ځلميه !
( په بام خيژي )

( پرده لوېږي )

دریمه صحنه

دویمه پرده

د دې صحنې وقایع په بازارکښې پېښېږي ځلمی د سنګ دکان ته ولاړ دی.

ځلمی: دغه روپۍ در واخله

میده پیسې را کړه

سنګ: ښه ده کښه (یوڅه پیسې ورکوي اوڅه یا ته کیږي)

(عزیزي په صحنه کښې داخلیږي، د زرګر دکان ته ګوري او په زړه کې وایي)

ګوره څه ښې ګاڼې دي

راځه چه څه خو واخلم

چه په تش لاس ورنشم

زړه به یې لږ خوشحال شي
ښځې گانه خوښوي
غریبه نا سته په کور
خدای زده چه څه تصور
کوي د ځان سره اوس
خبره نه ده چه زه
په سلامت راغلمه
دد یې د زړه د یاره
یمه زر کړسته ولاړ
گاڼې اخلم . . . . . .
( د کان ته ننوځي کیږي او گاڼې اخلي )
سنگ :      هلکه ته یو ساعت

همدلته ودرېږه
چه زه دکاره خلاص شم
بیا به پیسې درکمه

غرزی: وروره! دادی زوی دی
که دی شاګرد نیولی
(حلمی نه پېژنی)

سنګ: نه بابا هیڅ می نه دی
یوه روپۍ یې راوړه

حلمی: کاکا تهٔ زړ شه چه زه
دلوږی مړمه په خدای
زرمې پیسې راکړه
چه ځم ورېد پرې اخلم

غرزي: څه خېل روپۍ ده ستا؟
ځلمی : کلیمه داره روپۍ
غرزي: دا دي د کومه کړله
ځلمی : د مور زحمتي کي مي وه
غرزي: لکه چه پلار نه لرې؟
ځلمی : له مورا و پلار سره مي
د تا څه کار دي کاکا
(زرګرته) کاکا ته زر شه کنه
غرزي: (یوه طلا زرګرته ورکوي او روپۍ په عوض کښې اخلي او ځلمی ته یې ورکوي)
سنګ : ورور ه! دا څه خیرات وو.
غرزي: د هر چا شځه او ځوی

په کور او کلي کښې شته
کلیمه داره روپۍ
ته ورله بېرته ورکړه

(ځلمی روپۍ بېرته اخلي او کالد ته ځي د غرزي هم کار تمامیږي او ورپسې روانیږي).

ځلمی : (شاته ګوري چه غرزي ورپسې دی)
کاکا روپۍ دي بېرته غواړې

غرزي: ولی به یې بیا ته غواړم
ځلمی: نو ځه راځې
غرزي: ځما کوږ هم د بې خوا دی

(یو ځای روانیږي تر څو چه په یوه دروازه کښې دریږي)
ځلمی : خدای په امان

( په دروازه ننوزي )

( عزیزی چه د ده د ننو تلو څخه په حقیقت پوهیږي غږ ورته کوي

خلی چیغه وهی، مور یې راووځي یو بل سره پیژني )

( پرده لوېږي )

دعبدالرّوف "عاکف" لیک

PROPERTY OF ACKU 5560

B
3.65
PAZ
5560

پښتو ټولنه

AOKU

مطبعهٔ دولتی